**بسم الله الرحمن الرحيم**

# لومړی څپرکی

## داحصائیی اساسی مفاهیم اود دفعاتو توزیع

احصائيه څشی ده؟
ایا احصائيه د اعدادو جمع کول دي؟ ایا احصائيه د شکلونو رسم او لایه ده؟ ایا د وزګارتیا اوسط یا سلنې محاسبه او یا د نورو شاخصونو محاسبه ده، ایا احصائيه د ټولنې یا طبیت ځانګړو عددي مقدارونو محاسبه ده؟
هو! دا ټول سم دي، خو احصائيه د يو علم په توګه معلوماتو ته د مفهوم ورکولو مطالعه او څېړنه ده. د ټولنې د بېلابېلو برخو کسان معلوماتو ته اړتيا لري.
د بېلګې په توګه مړينه، د کرنې حاصلاتو کچه، روغتيايي پېښې، ترافيکي پېښې او داسې نور...
مور دلته احصائيه موخې ته د رسېدو لپاره کاروڅو معلوماتو ته مفهوم ورکړو او و يې ارزو

### 1.1داحصائیی تعریف او مفهوم:

احصائیه یوه عربی کلمه ده ،چی دشمیرلو په معناده .په انګلیسی کی (statistics) بلل کیږی چی دلاتنی لغات status څخه اخستل شویدی چی د دولت لپاره دضرورت وړ اودټولنی لازمه ارقامو اومعلوماتوپه معناده.نن ورځ هم په انګلیسی ژبه کی state دولت ته ویل کیږی داحصائیی لپاره علماو بیلابیل تعرفونه کړیدی په ساده او معمولی مفهوم سره احصائیه دارقامو اوشمیرلو هری هغی مجموعی ته ویل کیږی چی دچاپیریال یادانسانانو ټولنیزو،اقتصادی،سیاسی اونورو فعالیتونو او ښکارندو په اړه وی .دچاپیریال په برخه کی د اوربښت ، نودوخ[illegible] [illegible]، د[illegible] [illegible] بیلګی دی او [illegible]نیزو [illegible]یتونوپه برخه کی د وزګارو اوپه کاربوختو وګړو شمیر ، دسواد سلنه، دناروغیو کچه،واردات،صادرات، او داسی نوری بیلګی ذکر کولای شو .

(Kendall) او (Yule) وایی: د ډیرو اړتیاو دټاکلو لپاره په ټاکلو حدودو کی دکمی ارقاموڅیړنی ته احصائیه وایی.

که پورته تعریف ته نظر وکړو :

احصائیه په لومړی ګام کی اطلاعات (ارقام) ،معلومات اومشاهدات راټولوی همدغه ارقام(Data ) خام مواد دی ، چی بیا تنظیمیږی او په لنډیز سره ارائیه او په واضح ډول سره تشریح کیږی ، دهغوی تعبیر او تفسیر اسانه کیږی

په دویم ګام کی احصائیه د څیړونکی سره مرسته کوی چی دخپلو څیړنو پایلو ته پراخوالی ورکړی

**1.2**

استاد عبدالاحد ارین

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د احصائیي لنډه تاریخچه:**

احصائیه دانسانی ټولنی دلومړی دولت په اندازه لرغونتوب لری کله چی مصر ،بابل ، کی لومړنی دولتونه په ابدائیه بڼه جوړشول ، دا وخت دملاد څخه (۳۰۵۰) کاله مخکی چی دوی پخپلو قلمرونو کی د دولتی چارو د ضرورت له مخی دنفوسو او نورو منابعو په هکله شمیرنی کولی په چین کی (۲۰۰۰) کاله مخکی تر ملاد سر شمیرنه شوی په (۱۰۱۷) م کال کی د اوسنی فلستین د نفوس شمیرنه شویده په انګلیستان کی (۱۳۷۱-۱۳۱۲)م کال کی مالیه ثبت او دمالیی ورکونکو شمیر ثبت شویدی

په همدی سلسله احصائیه دخلګو د توجه وړ وګرځیده

**1.3داحصائیی د پلی کولو (تطبیق ) ساحه**

له احصائیی څخه دعلومو دیوی څانګی او دځانګړو میتودونو او روشنو دیوی ساحی په توګه په لاندی برخو کی ګټه اخستل کیږی

1- دکرنیزو محصولاتو د تولید او ویشلو په برخه کی
2- دنفوس وکړو او کورنیو دځانګړتیاو په برخه کی
3- دمهاجرتونو مسافرتو نو او دهغوی داړوند حالاتو په برخه کی
4- داقتصادی ،ټولنیزو،فزیکی، ودانولو دبنسټونو او دهغی دساتنی اوڅارنی په برخه کی
5- دسیاست ،ټاکنو، او دانسانی حقونو په برخه کی
6- دترانسورت او مالیاتو درا ټولولو په برخه کی
7- دعلمی تحقیقاتو او مطالعاتو سروی دعلومو دبیلابیلوڅانګو په برخه کی
8- دسوداګری ،مارکیټ ، دکار ساحی او د عوایدو ، لګښتونو دسطحی په برخه کی
9- د ښوونی اوروزنی ، په ملکی اونظامی خدمتونو کی د نفوسو دجلب په برخه کی

**1.4 د احصائیي تقسیم بندی**

احصایه د ارقامو د توضیح او تشریح له مخي په دوه برخوويشل کيږي .

1: **تشريحي احصایه(Descriptive statistics)** : دا احصایه دټولو هاغو روشونو او اوصافو څخه عبارت ده چې د يو جمیعت او يا يوي نموني د اوصافو اومشخصاتو په تشريح او تو ضيح کې په کاروړل کيږي لکه داوسط،مياني ، مود،او معياري انحراف چی داحصائیی په همدی برخه کی تشریح کیږی.

**۲-استنباطي احصایهInferential statistics:** استنباطي احصایه د هاغو روشونو څخه عبارت ده چي د هغي له لاري د يوي نموني د مربوطه مشخصاتو له مخي د يو جمیعت مشخصات استنباط کيږي.

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا په بل عبارت استنباطي احصايه هغه احصايي ته وايي چې د جزيه تشريح کولو د کل سره سراو کار لري يعني محقق د نموني اوصاف سره سراو کار لري او د مشخصو روشونو په واسطه د نموني مشخصاتو له مخي د جميعت د مشخصاتو په اړوند خپل حکم صادروي .

**1.5 جمعيت (population):**

يو سټ چې ټول عناصر یی يو ياڅو مشترک خاصيتونه ولری او په يو مشخص وخت او مناسب موقعيت کی قرار ولری جمعيت بلل کيږی يا جمعيت ټولو هغو ارقاموته ويل کيږی چی دمطالعی او څيړنی لاندی وی او د مطالعی لپاره را ټول شوی وی په دی کی د بوټو ، ځاروېو ، حشراتو، دحرارت درجه، او نور ټول ارقام راځی

احصائيوی جمعيت دوه ډوله دی : محدود نفوس (finite population ) د بيلګی په توګه :د هلمند دنوزاد د انارو حاصلات ، دهلمند دناوی ولسوالی دپمبی حاصلات او بل يی بی نهايت نفوس (Infinite population) دبيلګی په توګه د ټوله نړی د انارو حاصلات يا د ټولی نړی دانارو د پخيدو د وخت سنجس ، په هغو کی د ګټورو موادو مقدار او نور مثالونه .

**1.6 نمونه او نمونه اخستل (sample and sampling):**

په ځينو مواردوکی ديوجمعيت يا ټولنی داعضاوو مطالعه ستونزمنه وی ،پر مصرفه اوپه عمل کی ستونزمن کار دی ، دمثال په توګه دافغانستان د 9 کلنو ماشومانو د استعداد ضريب (IQ) معلومول ستوزمن کار دی نو داحصائيی پوهان د ټول جمعيت د مطالعی لپاره نومړی جمعيت په څو ګروپونو ويشی چی ديوی برخی انتخاب دجمعيت څخه دنمونی( sample) په نوم ياديږی او دغی پروسی ته عمليی ته نمونه اخستل (sampling) وايی په احصائيه کی دجمعيت خصوصياتو ته پارامتر (parameter) او نمونی خصوصياتو ته تخمين يا براورد (Estimates) وايی که په احصائيه کی د 100 محصلينو دقد لوړ والی اندازه کړو او دهغوی اوسط قد په لاس راوړو نو لاس ته راغلی مقدارته تخمين د ټولو محصلينو وايی.

نمونه اخيستل له عناصرو څخه د نموني اخيستلو لپاره، يوازې يوه برخه يې د نمونې په توګه مشاهده او اندازه کوو او د نمونې پايله له عناصرو سره پرتله کوو ، هرڅېړنه او ارزونه کې د سمې نمونې غوراوی يوه مهمه موضوع ده.

له دې امله د احصائې مهم بحثونه د احصائې نمونې اخيستنې نظرياتو او ميتودونو ته ځانګړي شوي دي.

نمونه اخيستل په دوو ډلو وېشل کيږي

۱ساده نمونه اخيستنه

-۲تصادفي نمونه اخيستنه

-۱ساده نموني اخيستنه کې د احصائيه پوه ليتوالتيا او سليقه شامل دی.

-۲تصادفي نمونه اخيستنه کې د احصائيه پوه ليتوالتيا او سليقه شامل نه دي.

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدای شي چي ټول عناصر د نموني اخیستني مساوي چانس ولري او د احصائي علم کي تر ډېره له تصادفي نمونه اخیستنيڅخه استفاده کیږي.
یعني د دې ډلې ټول عناصر د نموني اخیستني عنصر په توگه مساوي چانس لري او د احصائي علم کې تر ډېره بریده تصادفي نمونه اخیستنه کارول کیږي.
د بېلگې په توگه که د یو پوهنتون ۵۰زده کړیالان د ونې/ قد ټاکلو لپاره د نمونې په توگه غوره کړو او د هغوی د ونې لوړوالی پیدا کړو په دې صورت کې له اټکل څخه تر لاسه شوي معلومات د ټولو زده کړیالانو د قد اوسط ښیي.

### 1.7 متحول (Variable)

1. تعریف : هر عنصر چی داندازه گیری وړ وی د متحول په نوم یادیږی
2. تعریف: دمتحول اندازه گیری ته تحول وایی
3. تعریف : که چیری متحولونه یوازی تام قیمتونه واخلی ، نو دغیر متمادی متحول په نوم یادیږی لکه : دیوی ښنو ونځی د استادانوشمیر
4. تعریف: که چیری یو متحول د دوو معینو حدونو تر منځ قیمتونه واخلی د متمادی متحول په نوم یادیږی ،لکه دقد جگوال ، وزن ، استعداد......

### 1.8خام مواد یا خام اطلاعات (Raw Data)

د دعدادو جمع کول او نمایش دی ، دخیرنی او سنجس لپاره نوموړی مواد دپوهیدو وړ نه دی یا په بل عبارت دهغه ابتدائه معلوماتو او ارقامو را ټول دی چی په عددی ډول نه وی ترتیب شوی یعنی:

- تحلیل او تجزیه نه وی
- گنگ وی
- دپو هیدو وړ نه وی
- خشک یا خام ارقام وی

### 1.9 مجموعه(Summation)

په احصائیه کی اکثره وخت د مجموعی څخه استفاده کوو دبیلگی په توگه : که د $x$ یو متحول ولرو او هغه ته $x_1, x_2, .., x_n$ قیمتونه ورکړو نو په لنډ ډول یی په $x_i$ سره ښیو چی $i = 1,2,3 \dots, n$ چی دی او مجموعه یی په لاندی ډول سره ښیوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\sum_{i=1}^{n} x_i = x_1 + x_2 + x_3 + \cdots \quad \ldots + x_n$$

۱ ـ **قضیه :**د دوه یاڅو متحولنو مجموعه د هر متحول دجلا مجموعی څخه عبارت ده

$$\sum_{i=1}^{n}(x_i + y_i + z_i) = \sum_{i=1}^{n} x_i + \sum_{i=1}^{n} y_i + \sum_{i=1}^{n} z_i$$

ثبوت:

$$\sum_{i=1}^{n}(x_i + y_i + z_i) = (x_1 + y_1 + z_1) + (x_2 + y_2 + z_2) + \cdots + (x_n + y_n + z_n)$$

$$= (x_1 + x_2 + \cdots + x_n) + (y_1 + y_2 + \cdots + y_n) + (z_1 + z_2 + \cdots + z_n)$$

$$= \sum_{i=1}^{n} x_i + \sum_{i=1}^{n} y_i + \sum_{i=1}^{n} z_i$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويمه قضيه** : که چېري c يو ثابت عدد وي؛ نو:

$$\sum_{i=1}^{n} cx_i = c\sum_{i=1}^{n} x_i$$

ثبوت :

$$\sum_{i=1}^{n} cx_i = cx_1 + cx_2 + \ldots + cx_n = c(x_1 + x_2 + \ldots + x_n) = c\sum_{i=1}^{n} x_i$$

لومړی مثال :- که $x_1 = 2$, $x_2 = 4$, $x_3 = 6$ وي؛ نو: $\sum_{i-1}^{3} x_i$ محاسبه کړئ ؟.

حل :

$$\sum_{i=1}^{n} x_i = \sum_{n=1}^{3} x_i = x_1 + x_2 + x_3 = 2+4+6 = 12$$

دويم مثال : که $x_1 = 3$, $x_2 = 5$, $x_3 = 7$ وي لاندې مجموعې پيدا کړئ؟

1: $\sum_{i=1}^{3} x_i$ 2: $\sum_{i=1}^{3} 2x_i^2$ 3: $\sum_{i=1}^{3} (x_i - i)$

حل:

$$1: \sum_{i=1}^{3} x_i = x_1 + x_2 + x_3 = 3+5+7 = 15$$

$$2: \sum_{i=1}^{3} 2x_i^2 = 2\sum_{i=1}^{3} x_i^2 = 2(x_1^2 + x_2^2 + x_3^2) = 2(3^2 + 5^2 + 7^2) = 166$$

$$3: \sum_{i=1}^{3} (x_i - i) = (x_1 - 1) + (x_2 - 2) + (x_3 - 3)$$

$$= (3-1) + (5-2) + (7-3) = 2+3+4 = 9$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-مثال: د جمع دحاصل په شکل یی ولیکی

$$a)\sum_{i=1}^{3}(4y_i+1) \qquad b)\sum_{i=1}^{3}2x_i^2$$

حل :

$$a)\ \sum_{i=1}^{3}(4y_i+1)=(4y_1+1)+(4y_2+1)+(4y_3+1)$$

$$b)\sum_{i=1}^{3}2x_i^2=(2x_1^2)+(2x_2^2)+(2x_3^2)$$

که $x_i=2,4,5$ او $y_i=1,3,4$وی نو په دی صورت کی لرو چی:

$$\sum_{i=1}^{3}(4y_i+1)=(4.1\ \ +1)+(4.3\ \ +1)+(4.4+1)=35$$

$$\sum_{i=1}^{3}2x_i^2=(2.2^2)+(2.4^2)+(2.5^2)=90$$

دیوثابت عدد $a$مجموعه دهغه $n$ برابره کیږی یعنی :

$$\sum_{i=1}^{n}a=na$$

ثبوت :

$$\sum_{i=1}^{n}a=a_1+a_2\ +a_3+\cdots+a_n\Longrightarrow\sum_{i=1}^{n}a=na$$

مثال4 :

$$\sum_{i=1}^{3}4\ =3.4=12$$

$\sum_{i=3}^{6}3\ =(6-2)3=4.3=12$

$\sum_{i=1}^{n}(ax_i+b)=\ a\sum_{i=1}^{n}x_i+\sum_{i=1}^{n}b=a\sum_{i=1}^{n}x_i+$

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال6: د 2,5,6,7,11,15,20,22,23 عددونو په سټ کی د 3 اولو عددونو لپاره لاندی مجوعی پیداکوو

$$\left(\sum_{i=1}^{3} x_i\right)^2 = (x_1 + x_2 + x_3)^2 = (2+5+6)^2 = 13^2 = 169$$

$$\sum_{i=1}^{3} (x_i)^2 = 2^2 + 5^2 + 6^2 = 4 + 25 + 36 = 65$$

دپورته مثال څخه نتیجه کیږی چی: $(\sum_{i=1}^{n} x_i)^2 \neq \sum_{i=1}^{n} (x_i)^2$

دحاصل ضرب لپاره علامه : د $p(1).p(2).p(3) \ldots \ldots p(n)$ لپاره لرو چی

$$\prod_{k=1}^{n} p(k) = p(1).p(2) \ldots .p(n), \qquad \prod_{k=1}^{n} k = 1.2.3 \ldots .n = n!$$

مثالونه :

$$\prod_{k=1}^{n} a = a.a.a \ldots .a = a^n , \quad \prod_{k=1}^{5} k = 1.2.3.4.5 = 5! \quad , \quad \prod_{k=1}^{3} 3 = 3^3 = 27$$

پیاد باید ولرو چی : $\sum_{i=1}^{n} x_i\ y_i \neq \sum_{i=1}^{n} x_i . \sum_{i=1}^{n} y_i$ مثال دی لوستونکی کارکړی

پوښتنی :که $x_1 = 2, x_2 = 4 , y_1 = 3 , y_2 - 1$ وی $\sum_{i=1}^{2} (3x_i - y_i + 4)$ پیداکړی؟

که $x_1 = 2, x_2 = 4, x_3 = 6, x_4 = 7, x_5 = 8$ وی لاندی مجموعی پداکړی ؟

$$1: \sum_{i=1}^{3} (x_i - 3)^2 \qquad 2: \sum_{i=1}^{5} (x_i)^2 \qquad 3: \sum_{i=1}^{3} (x_i^2 - x_i)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$4: \sum_{i=1}^{3} \sqrt{x_i} \quad , \qquad 5: \sum_{i=1}^{4} (x_i^2 + 2) \quad , \qquad 6: \sqrt{\sum_{i=1}^{3} x_i}$$

**1.10 د دفعاتو توزیع (ویش)**

مخکی له دی چی مورږ پیچلی معلومات راټول ، ترتیب او تنظیم کړو، نو لازمه ده چی لاندی مفهومونه وپیژنو

1) ګراف (Graph) : دهغه شکل څخه عبارت دی چی د متحولینو تر منځ تصویری ارتباط ټینګوی
2) خام مواد(Raw data): دهغه ارقامو او راټول شوو معلوماتو څخه عبارت دی چی په عددی ډول نه وی ترتیب شوی
3) صنف بندی (Arrays): په صعودی یا نزول ډول دخامو موادو ترتیب کول دی
4) وسعت (Range): د صنف د لوی او کوچینی حد تر منځ فرق ته وسعت وایی
5) ساحه (Domain): دمتحول هغه قیمتونه دی چی تابع په نومورې قیمتونو کی تعریف شوی وی
6) صنف (Class): هغه افراد ، اشیا ء او حوادث دی چی مشترک خصوصیات او عینی حالت ولری
7) دصنف انتروال(Class Interval: د صنف د تحول دساحی څخه عبارت دی
8) دطبقی یا صنف حدود (Class Limits): د یوی طبقی اخرنی (انجامی ) اعداد دطبقی د حدودو په نوم یادیږی د طبقی کوچینی عدد د ټیټ حد او لوی عدد د لوړ حد په نوم یادیږی
9) دیوی طبقی خلاصه ساحه (open class Interval): عبارت دهغی طبقی دساحی څخه دی لوړ یاټیټ حد یی محدود شوی نه وی

**د دفعاتو د توزیع جدول (Frequency Distribution):** د دی لپاره چی خام مواد د هغوی د مربوطه دفعو سره ولیکو یو جدول ته ضرورت لرو چی لاندی نقطی باید په نظر کی ونیسو

a) د دی لپاره چی د اشتباهاتو حخه ځان وژ غورو دهری دفعی په عوض یو خط لیکو چی د چوب خط (Tally) په نامه یادیږی
b) وسعت : د صنفونو شمیر چی معمولآ د 5 څخه تر 25 پوری په نظر کی نیول کیږی دتعین لپاره یی وسعت یا فاصلی ته ضرورت دی چی د لوړ حد او ټیټ حد د تفریق د حاصل څخه عبارت دی یعنی R=b-a
c) دصنفونو انتروال باید یو شان وی چی معمولآ په c سره ښودل کیږی که دصنفونو شمیر په k سره وښیو نو دصنفونو انتروال د $c = \frac{R}{K}$ رابطی په واسطه تعینوو چی باید یو مناسب عدد انتخاب شی که دصنفونو انتروال او مقدار معلوم نه وی نو لاندی ټکی په پام کی نیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. که n معلومات راکړل شوی وی نو د $n = 2^k$ رابطی څخه د k قیمت پیدا کوو
2. که n معلوات راکړل شوی وی و، دلاندی رابطی څخه استفاده کوو چی د استورج دقاعدی په نوم یادیږی د k قیمت مناسب انتخابوو $k = 1 + 3,322\,.\log n$
3. کولای شو د k قیمت پخپله خوښه انتخاب کړو ، البته د 5 څخه تر 25 پوری باید انتخاب شی که چیری دصنفونو شمیر د 5 څخه کم وی، نو معلومات خپله معنا دلاسه ورکوی او که صنفونه د 25 څخه زیات شی نو محاسبه یی اوږده او دوخت ضایع ده

لومړی مثال:

مثال: که یو شمیر ارقام په لاندي دفعاتو سره راکړشوي وي جدول یی ترتیب کړی

11,11,12,12,13,13,13,13,13,14,14,15,15,15,16,16,17,18

| xدارقام | F دفعات |
|---|---|
| 18 | 1 |
| 17 | 1 |
| 16 | 2 |
| 15 | 3 |
| 14 | 2 |
| 13 | 5 |
| 12 | 2 |
| 11 | 2 |
| Total | F=18 |

دویم مثال: لاندی عددونه د 20 تنه محصلینو دقد اندازه رابنیی تاسی یی جدول ترتیب کړی

حل: 160,163,165,163,170,170,165,175,180,165

لومړی یی په نزولی ډول ترتیبوو 175,160,175,170,170,170,175,165,163,165

| دقد اندازه | دفعات |
|---|---|
| 160 | 2 |
| 163 | 3 |
| 165 | 5 |
| 170 | 5 |
| 175 | 4 |
| 180 | 1 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم مثال: په یوه ازموینه کی 40 زده کوونکو ګډون کړیدی او پایلی یی په لاندی ډول اعلان شویدی تاسی یی د دفعاتو دتوزیع جدول ترتیب کړی

56 78 62 37 54 39 62 60 28 82

38 72 62 44 54 42 42 55 57 65

68 47 42 56 56 55 66 42 52 48

48 47 41 50 52 47 48 53 68 56

حل:لومړی یی ترتیبوو


28 42 47 48 54 56 62 68

$R = b - a \Longrightarrow R = 82 - 28 = 54$ 37 42 47 50 54 56 62 68

$c = \frac{R}{k} = \frac{54+1}{11} = 5 \Longrightarrow c = 5$ 38 42 47 52 55 56 62 72

39 42 48 52 55 57 65 78

41 44 48 53 56 60 66 82

| دصنفونو انتروال | شمیریا Tally | $F_i$ |
|---|---|---|
| 28-32 |  | 1 |
| 33-37 | | 1 |
| 38-42 | | 7 |
| 43-47 | | 4 |
| 48-52 | | 6 |
| 53-57 | | 10 |
| 58-62 | | 4 |
| 63-67 | | 2 |
| 68-72 | | 3 |
| 73-77 | | 0 |
| 78-82 | | 2 |

ځلورم مثال: که چیری په یوه مسابقه کی 80 محصلینو ګډون کړی وی ، د دفعاتو جدول یی ترتیب کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



23  24  18 14  20  24  24  26  23  21

16  15  19  20  22  14  13  20  19  27

24  22  38  28  34  32  23  19  21  31

16  28  19  18  12  27  15  21  25  16

30  17  22  29  29  18  25  20  16  11

17  12  15  24  25  21  22  17  18  15

21  20  23 18  17  15  16  26  23  22

11  16  18  20  23  19  17  15  20  10

حل: که وغواړو د پورته ارقامو جدول جوړ کړو ، نو لومړی باید هغه ترتیب کړو چې ترتیب کول یې لوستنکوته پریږدو

که وغواړو په اعشاری ډول صنفونه جوړکړو ، نو دهر صنف د ټیټ حد څخه 0.5 تفریقوو او دلوړ سره 0.5 جمع کوو

$10-0.5=9.5$ , and $14+0.5=14.5$ $c=\frac{k}{R}=\frac{28+2}{6}=5$

| صنفونه Classes | صنفی سرحدونه Class boundaries | شمیریا Tally | دفعات $F_i$ |
|---|---|---|---|
| 10-14 | 9.5-14.5 | 卌 \|\|\| | 8 |
| 15-19 | 14.5-19.5 | 卌 卌 卌 卌 卌 \|\|\| | 28 |
| 20-24 | 19.5-24.5 | 卌 卌 卌 卌 卌 \|\| | 27 |
| 25-29 | 24.5-29.5 | 卌 卌 \|\| | 12 |
| 30-34 | 29.5-34.5 | \|\|\|\| | 4 |
| 35-39 | 34.5-39.5 | \| | 1 |
| | | | $\sum F_i$=80 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال : د40 تنو محصلینو قد په cm اندازه شوی دی ، جدول یی ترتیب کړی

138 164 150 132 144 125 149 157 146

158 140 147 136 148 142 144 168 126

138 176 163 118 154 165 146 173 142


147 135 153 140 135 161 145 135 142

150 156 145 128

ترتیب کول یی د لوستونکو دنده ده

**1.11 گراف:** د دفعاتو د توزیع هندسی تصویر ته گراف وایی، چی اکثره علمی تحقیقات په ښه ډول تشریح کوی


1. **هستوگرام گراف(مستطلی گراف)** : دغه گراف اکثراَ دمتمادی معلوماتو لپاره په کار وړل کیږی ،اودهغه مستطیلونو د مجموعی څخه عبارت دی چی قاعده یی د$c = \frac{R}{k}$ په واسطه تعینیږی





2. **د دفعاتو کثیرالاضلاع:** دهمدی گراف د ترسیم لپاره دهرمستطیل دقاعدی وسطی نقطه پیداکوو،دغه وسطی نقطه د مستطیلونو په پورته برخه کی سره نښلوو چی د دفعاتو کثیرالاضلاع لاسته راځی


(c) ketabton.com: The Digital Library







3. بار گراف (میلیی گراف): دا گراف هم د هستوگرام گراف غوندی دی خو فقت په هستوگرام کی معلومات متمادی وی خو په بار گراف کی غیر متمادی .یادونه باید وشی چی د نوموړی گراف د مستطیلونو ترمنځ فاصله باد یوه اندازه وی




4- پای گراف : دا گراف دیوی دایری څخه عبارت دی چی اکثره دفیصدی لپاره استعمالیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library






### 1.12 دفریکونسی ډولونه

مطلقه فریکونسی $F_i$ د معلوماتوکی دهر دیتا ( data) د دفعاتو (تکرار) څخه عبارت دی

یادونه باید وس چی په صنف بندی شو معلوماتو کی مطلقه مجموعی فریکونسی د طبقه بندی شوو معلوماتو دمجوعی سره مساوی دی یعنی:

$$\sum_{i=1}^{k} F_i = F_1 + F_2 + F_3 + \cdots + F_k = N$$

۲ – نسبی فریکونسی $f_i$ :ک دهر طبقی مطلقه فریکونسی د مطلقی فریکونسی پر مجموعی تقسیم کړو نو دهمغی طبقی نسبی فریکونسی په لاس راځی یعنی:

$$f_i = \frac{F_i}{\sum_{i=1}^{k} F_i} = \frac{F_i}{N}$$

دنسبی فریکونسی مجموعه په هر احصایوی جدول کی د (۱) سره مساوی ده

$$\sum_{i=1}^{k} f_i = f_1 + f_2 + f_3 + \cdots + f_k = 1$$

3- د فیصدی فریکونسی $p_i$ که دنسبی فریکونسی هره طبقه په (*100*) کی ضرب کړو دهمغه طبقی فیصدی فریکونسی لاس ته راځی یعنی: $p_i = \frac{F_i}{\sum_{i=1}^{k} F_i} . 100$

او د فیصدی مجموعی فریکونسی په هرجدول کی د (100)سره مساوی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\sum_{i=1}^{k} p_i = p_1 + p_2 + p_3 + \cdots + p_k = 100$$

4. تراکمی فریکونسی یا مجموعی فریکونسی(cumulative frequency): د دفعاتو حاصل جمع په $cf$ سره ښیو د دفعاتو دا مجموعه هغه دفعی جمع کوی چی دهغی څخه کښته واقع وی

5. نسبی تراکمی فریکونسی(percentage relative frequency): $rcf$ نسبی تراکمی فریکونسی د $rcf = \frac{cf}{N}$ پواسطه لاسته راځی چی دلته $rcf$ نسبی تراکمی دفعات ، $cf$ تراکمی دفعات او N د دفعاتو مجموعه راښیی او یا داسی چی که د نسبی فریکونسی هره طبقه دهغی دکښته طبقی سره جمع کړو نونیبی تراکمی فریکونسی په لاس راځی او دنسبی فریکونسی اخره طبقه په هر جدول کی د یو (۱) سره مساوی ده

6. دفیصدی نسبی فریکونسی (percentage relative cumulative frequency):

د $prcf = \frac{cf}{N}\ 100$ پواسطه لاسته راځی پورته حالتونه په لاندی جدول کی کتلای شی

| $x_i$ | $F_i$ | $f_i = \frac{F_i}{N}$ | $p_i = \frac{F_i}{N}100$ | $cf$ | $rcf = \frac{cf}{N}$ | $prcf = \frac{cf}{N}100$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 96-99 | 4 | 0.16 | 16 | 4 | 0.16 | 16 |
| 99-102 | 4 | 0.16 | 16 | 8 | 0.32 | 32 |
| 102-105 | 11 | 0.44 | 44 | 19 | 0.76 | 76 |
| 105-108 | 1 | 0.04 | 20 | 20 | 0.80 | 80 |
| 108-111 | 5 | 0.20 | 100 | 25 | 1. | 100 |
| | N=25 | 1 | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال: د (مثال: د (30) محصلینو د قد اندازی د سانتی متر په حساب په لاندی ډول دی

169 165 169 158 162 158 167 158 169 167 164 171

167 170 171 162 164 165 165 164 170 169 170 164

165 164 165 169 171 165

| دقداندازه xi | 158 | 162 | 164 | 165 | 167 | 169 | 170 | 171 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دمحصلینوشمیرFi | 3 | 2 | 5 | 6 | 3 | 5 | 3 | 3 |
| کټګوری | 5 | | 14 | | | 11 | | |

دپورته جدول څخه لیدل کیږی چی د 3 تنو قد 158cm، د 2 تنو قد 162cm .......او بالاخره د 3 تنو قد 71cm دی لیدل کیږی چی زیات محصلین د ماوسط قد لرونکی دی او دلوړ قد لرونکی تر ټیټ قد لرونکو زیات دی په لاندی جدول کی په بنه ډول لیدل کیږی

| دمحصلینوګروپ xi | ټیټ قد | متوسط قد | لوړقد |
|---|---|---|---|
| دمحصلینوشمیرfi | 5 | 14 | 11 |

مثال:په یوه کارخانه کی 20 تنه نارینه اوښځینه کار کوی

ښځه:woman    نر:Man

M W M W M WW M M M

M W M W W M W W M M

الف:دکارکونکوو شمیر معلوم کړی    حل:الف N=20

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب:متحول راوپیژنی


ج:جدول ترتیب کړی

د:گراف یی رسم کړی

ب:دکارکونکوجنسیت x

ج:

| حالت | xi | Fi |
|---|---|---|
| 1 | M | 11 |
| 2 | W | 9 |
| | | 20 |





مثال: دیوی فابریکی څخه  لاندی معلومات راکړل سوی دی تاسی یی گراف رسم کړی

| i | Xi | Fi |
|---|---|---|
| 1 | کمیس | 60 |
| 2 | کرتی | 40 |
| 3 | کوټ | 50 |
| 4 | صدری | 25 |
| 5 | بوټ | 35 |

fi

(c) ketabton.com: The Digital Library






مثال:د 170 کارکونکو څخه 18 تنه انتخابوو،تر څو دهغوی د اولادو شمیر معلوم کړو

الف :نمونه او جمعیت ، نمونه :n=18 او N=170 جمعیت

ب:متحول ، دکارکونکوشمیر=X

ج:ګراف رسم کړی ، د ګراف رسمول دلوستونکو دنده ده

| i | xi | Fi |
|---|---|---|
| 1 | 1 | 5 |
| 2 | 2 | 4 |
| 3 | 3 | 5 |
| 4 | 4 | 3 |
| 5 | 5 | 1 |
| | | 18 |

مثال: د 1000 معلوماتو لپاره څو طبقو ته ضرورت دی؟

حل : د استورج (Sturges) د فورمول څخه کار اخلو

$$k = 1 + 3{,}3.\,log n \Rightarrow k = 1 + 3{,}3.\,log 1000$$
$$= 1 + (3{,}3).\,3 = 1 + 9{,}9$$

$$k = 10{,}9 \approx 11 \Rightarrow k = 11$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال: که 300 تنه محصلین ولرو او دهغوی وسعت 4 وی ، نو دطبقو شمیر او د طبقو تر منځ انتروال لاسته راوړی

$$n = 300 \quad , \qquad R = 4 \ , k = 1 + 3{,}3.\,log300 = 9{,}18 \approx 9 \Longrightarrow k = 9$$

پاته عملیه د لوستونکو دنده ده

مثال: په لاندی جدول کی د هندوستان د ولایتونو نفوس راښیی، تاسی یی ګراف رسم کړی


| نفوس په ملیون | ولایتونه |
|---|---|
| 26 | New Delhi |
| 23 | Hyderabad |
| 8 | Gujarat |
| 4 | Punjab |
| 65 | Mumbai |

ددی سوال دحل لپاره د $360^{\circ}$ $angle = \frac{quantity}{Total}$ فورمول څخه کار اخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



| provinces | Population in million | Angle of sectors دقطاع زاویی | Comulative angles تراکمی زاویی |
|---|---|---|---|
| New Delhi | 26 | $\frac{26}{126}x360 = 74.3$ | 74.3° |
| Hyderabad | 23 | $\frac{23}{126}x360 = 65.7$ | 140° |
| Gujarat | 8 | $\frac{8}{126}x360 = 23$ | 163° |
| Punjab | 4 | $\frac{4}{126}x360 = 11$ | 174° |
| Mumba | 65 | $\frac{65}{126}x360 = 186$ | 360° |
| | 126 | 360 | |




مهم تکی:

۱-که چیرې معلومات په جدول کی ځای پرځای کړو او دخپل لورحدځخه کم شی .لاندی کړنی ترسره کوو

دجدول دنوی صنفونوانتروال په $c$، سره ښیو اوپه لاندی ډول عمل کوو

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$Ć = c + \left[\frac{\text{لوړحددجدول} - \text{دمعلوماتولوړحد}}{k}\right]$$

۲- دنویو صنفونو انتروال د Ć په اندازه نیسو

مثال۱ که چیری دمعلوماتو په یولیست کی لوړ حد 26 او کوچنینی حد یی 10 وی همدارنګه که c=3 او k=5 وی د توزیع جدول یی ترتیب کړی!

حل: ځنګه چی په جدول کی لوړ حد 25 او دمعلوماتو لوړحد 26 دی نو پورته مرحلی کاروو

| i | دصنفونوانتروال |
|---|---|
| 1 | [10-13) |
| 2 | [13-16) |
| 3 | [16-19) |
| 4 | [19-22) |
| 5 | [22-25) |

$$Ć = c + \left[\frac{\text{لوړحددجدول} - \text{دمعلوماتولوړحد}}{k}\right]$$

$$Ć = 3 + \left[\frac{26 - 25}{5}\right] = 3.2$$

اوس یی جدول ترتیبوو

| I | Ć |
|---|---|
| 1 | 10,0 - 13,2 |
| 2 | 13,2 - 16,4 |
| 3 | 16,4 - 19,6 |
| 4 | 19,6 - 22,2 |
| 5 | 22,2 - 26,0 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم : که معلومات یا اعداد په یو جدول کی ځای پرځای کړو او دخپل لوړ حد څخه زیات شی نولاندی کړنی کاروو

د صنفونو دپیل عدد $t_1$ په $t'_1$ سره ښیو او له د $\left[\frac{\text{دمعلواتولوړحد} - \text{لوړحد دجدول}}{2}\right]$ – ټیټ حد $= t'_1$ فورمول څخه کار اخلو

۲ – جدول د $t'_1$ څخه شروع کوو خو دصنفونو وسعت همغه پخوانی په نظر کی نیسو

مثال۱ : دیوی کارخانی د 36 کارکونکو دخطا اندازی په لاندی ډول دی .تاسی یی جدول ترتیب کړی

0,5 0,5 0,6 0,7 0,7 0,7 0,8 0,8 0,9 0,9 0,9 0,9 1

1,2 1,3 1,4 1,4 1,4 1,7 1,9 2 2,3 2,3 2,3 2,3 2,5

2,9 2,9 3

$$k = 1 + 3{,}3logn = 1 + 3{,}3log36 \Longrightarrow k = 1 + R = b - a\ 3 - 0{,}5 = 2{,}5$$
$$3{,}3(1{,}56) = 6{,}15 \approx 6 \Longrightarrow k = 6\,, \quad c = \frac{R}{K} = 0{,}41666. \approx 0{,}42.$$

| i | C |
|---|---|
| 1 | [0,50 -0,92) |
| 2 | [0,92- 1,34) |
| 3 | [1,34- 1,76) |
| 4 | [1,76- 2,18) |
| 5 | [2,18- 2,60) |
| 6 | [2,60- 3,02) |

څنگه چی په جدول کی لوړ عدد (3,02) دی چی دمعلوماتو دلوړ عدد سره توپیر لری نو لاندی عملیه کاروو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$t'_1 = \text{تیټ حد} - \left[\frac{\text{دمعلواتولوړحد} - \text{لوړحد دجدول}}{2}\right]$$

$$t'_1 = 0,5 - \left[\frac{3,02 - 3}{2}\right] = 0,49$$

اوس دویم جدول له 0,49 حخه پیلوو

| i | C |
|---|---|
| 1 | [0,49- 0,91) |
| 2 | [0,91- 1,33) |
| 3 | [1,33- 1,75) |
| 4 | [1,75- 2,17) |
| 5 | [2,17- 2,59) |
| 6 | [2,59 - 3,01) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم څپرکی

### 2.1 انحراف یا خوریدل (پراګندګۍ)

**تعریف:** انحراف په یوه ډاټا کې لومړئ د مرکزي میلان ارقامو محاسبه کول او بیا د ډټا دهر حد څخه د نوموړې مرکزي میلان تفاضل (تغیر یا انحراف) پیدا کوو، چې ددې تغیراتو اوسط ته خپور والې وایي. او یا انحراف د اوسط څخه د تغیر درجې ټاکلو ته وایي چې پوه شو چې ډاټا متراکمه ده او که پاشلې.

اوسط یو ګټور او مهم مقیاس دی اود اړوندو شمیرو دلړۍ د مرکزي تمایل د څرنګوالي په اړه دپام وړ رول لري.

په هغه کې که څه هم وسطي ارزښت په یوازیتوب سره نشي کولای چې د یو فریکونسي د وېشني بعضي عمده خصوصیات تشریح کړي. ضروري ده چې نور مهم خصوصیات د فریکونسي د وېشني په وسیله احصایوي مقیاسونه تشخیص او په وضاحت سره صورت ونیسي تر څو دهغه د مشکلاتو د پیښیدو او یا د اړوندي موضوع په باره کې ښه تصمیم ونیول شي.

که څه هم دیو اوسط عمده ځانګړني دادي چې دیوې لړۍ یا سلسلې له ټولو کتنو (مشاهداتو) یاشمیرو څخه په ښه توګه استازیتوب وکړي خود اړوندي سلسلې ټولي شمیري په عمومي ډول د سنجش شوي اوسط په څیر ارزښت نلري. داشمیري په متفاوتو اندازو سره له وسطي ارزښت یا مرکزي ارزښت څخه انحراف کوي، البته دانحراف اوخوریدنې (پراګندګۍ) اندازه او څرنګوالي نظر دویشني ډول او اړوندي سلسلې ته فرق کوي، دڅوډولونو او سطونو دسنجش سربیره نه شي کولای پرته له زیاتو معلوماتو د خوریدو (پراګندګۍ) د څرنګوالي په اړه قضاوت وکړي.

په دې ډول د انحراف په محاسبه کولو کې لومړئ د ډاټا د مرکزي میلان ارقام محاسبه کوو او بیا د ډټا دهر حد څخه د نوموړې مرکزي میلان تفاضل (تغیر یا انحراف) پیدا کوو، چې ددې تغیراتو اوسط ته خپور والې وایي.

### 2.2 دمرکزی میلان مقیاسونه(Measures of central tendency)

مرکزی معیارونه یادمرکزی میلان مقیاسونه هغه اندازی دی چی متوسط مقدار یا دمعلوماتو مرکز ته دتمایل نقطه مشخص کوی . چی معمولاً اوفایده من یی اوسط، میانه ، او موډ دی

### 2.3 حسابی اوسط (Arithmetic Mean)

دا داوسطونوله جملی څخه یو ډیرساده اوسط دی معمولاً یوازی ورته د اوسط اصطلاح کاریږی ، خوپه تحلیلی مسائلو اوڅیړنیزو موضوعاتو کی باید د اشتباه دنه پیښدو لپاره حسابی اوسط وبلل شی

کله چی دارقامو مجمعه دهغوی په شمیر وویشل سی حسابی اوسط لاسته راځی دغه اوسط په احصائوی اوڅیړنیزو بحثونوکی معولاًپه ($\bar{x}$) سره ښودل کیږی په صنف بندی شوی او غیر صنف بندی شوی ارقامو کی اوسط فرق کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: په غیر صنف بندی شوو ارقامو کی حسابی اوسط:

که چیری مشاهدات صنف بندی شوی نه وی یعنی (Non Grouped data) وی د ارقامو مجمعه دارقامو په شمیر ویشو یعنی: $\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_i}{n}$

پاملرنه: دجمعیت اوسط په μ او دنمونی اوسط په $\bar{x}$ سره ښودل کیږی

یعنی: $\mu = \frac{\sum_{i=1}^{N} x_i}{N}$ $\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_i}{n}$

مثال۱ : دیوی کارخانی د کارکوونکو د اولادونو شمیر په لاندی ډول دی اوسط یی پیداکړی

0 0 1 1 1 1 1 2 2 3 4 5 5

$$\mu = \frac{\sum_{i=1}^{N} x_i}{N} = \frac{0+0+1+1+1+1+1+2+2+3+4+5+5}{13} = \frac{26}{13} = 2 \Rightarrow \mu = 2$$

مثال۲: دیوی کارخانی د 80 کار کوونکو څخه د 14 کارکوونکو خطاوی په لاندی ډول دی تاسی یی اوسط پیداکړی

0,01 0,01 0,01 0,02 0,02 0,03 0,05 0,07 0,07 0,07 0,08 0,10 0,15 0,20

$$N=80 \quad , \quad n=14 \quad \bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_i}{n} = \frac{\sum_{i=1}^{14} x_i}{14} = \frac{0,89}{14} = 0,06 \Rightarrow \bar{x} = 0,06$$

ب: په صنف بندی شوو ارقامو کی اوسط (Mean from Group data)

په صنف بندی شوو ارقاموکی د اوسط د معلومولو لپاره دوی طریقی لرو

1) تفصیلی طریقه : $\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_{iFi}}{\sum_{i=1}^{n} Fi}$ یا $\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n}(x_{iFi})}{n}$

پاملرنه: دلته هم دنمونی اوسط په $\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n}(x_{iFi})}{n}$ او دجمعیت اوسط په $\mu = \frac{\sum_{i=1}^{n}(x_{iFi})}{n}$ سره ښودلی کیږی

مثال۱: د 25 تنو محصلینو دنمرو د توزیع جدول په لاندی ډول دی تاسی یی اوسط پیداکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Xi | 4 | 5 | 7 | 9 | 25 | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Fi | 6 | 7 | 8 | 4 | 25 | |
| XiFi | 24 | 35 | 56 | 36 | 151 | |

$$\bar{x} = \frac{\sum_{i=1(}^{n} x_{iFi)}}{n} = \frac{\sum_{i=1(}^{4} x_{iFi)}}{25} = \frac{24+35+56+36}{25} = \frac{151}{25} = 6{,}04 \approx 6 \Longrightarrow \bar{x} = 6$$

مثال۲ : په لاندی مشاهداتوکی x داسی تعین کړی چی دهغوی اوسط 6 وی [x, 2x-1, 2x, 3x +1,]

$$\bar{x} = \frac{\sum_{i=1(}^{4} x_{i)}}{n} \frac{1+\text{x3}+\text{x2}+1-\text{x2}+\text{x}}{4} = 6 \Longrightarrow = \frac{8x}{4}$$

$6 = \frac{8x}{4} \Longrightarrow 2x = 6 \Longrightarrow x = 3$ , [3,5,6,10]:نومشاهدات عبارت دی له

مثال۳: په لاندی جدول کی معلومات داسی درکړسویدی چی دهغوی اوسط 1,46 دی تاسی یی ورک شوی دفعات پیداکړی

| ترافیکی پیښی | دورځوشمیر |
|---|---|
| 0 | 46 |
| 1 | ? |
| 2 | ? |
| 3 | 25 |
| 4 | 10 |
| 5 | 5 |
| مجموعه | 200 |

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل:

| Fi.xi | دورځوشمیرFi | ترافیکی پیښیXi |
|---|---|---|
| 0 | 46 | 0 |
| F1 | F1 | 1 |
| 2f2 | F2 | 2 |
| 75 | 25 | 3 |
| 40 | 10 | 4 |
| 25 | 5 | 5 |
| 140+F1+2F2 | 86+F1+F2=200 | |

$$\bar{x} = \frac{\sum_{i=1(}^{n} x_{iFi)}}{n} = 1{,}46 \Rightarrow 1{,}46 = \frac{140 + F1 + 2F2}{200} \Rightarrow 140 + F1 + 2F2 = 292$$

$$F1 + 2F2 = 152 \ldots\ldots 1 \quad F1 + F2 + 86 = 200 \Rightarrow F1 + F2 = 114 \ldots\ldots .2$$

$F1 + 2F2 = 152 \ldots\ldots 1$

$F1 + F2 = 114 \ldots\ldots .2$ د F2 قیمت په 2رابطه کی وضع کوو

F2=38

$F1 + 38 = 114 \Rightarrow F1 = 114 - 38 = 76$

مثال۴: په لاندی جدول کی ورک شوی رقم پیداکړی

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دکورکرایه | 110 | 112 | 113 | 117 | m | 125 | 128 | 130 |
| دکورونوشمیر | 25 | 17 | 13 | 15 | 14 | 8 | 6 | 2 |

حل کول یی د لوستونکو دنده ده

مثال۵: په یوپنځوس (50) کسیزه ټولګی ( 10) تنه محصلین ناکام شویدی چی دهغوی دنمرو اوسط (2,5)دی دټولګی دټولو محصلینو نمری 281 دی تاسی دکامیاب محصلینو دنمرو اوسط پیداکړی

25=10(2,5)= دناکام محصلینونمری        281-25=256= دبریالی محصلینونمری

281 = د50تنو نمری        $\frac{256}{40}$ =4,6 = دبریالی محصلینو دنمرو اوسط

مثال۶: 100 محصلین ازموینی ته حاضر سوی دی او په لاندی جدول کی دناکام محصلینو نمری درکړل شویدی که چیری د 100 محصلینو د نمرو اوسط 68,6 وی تاسی د بریالیو محصلینو دنمرو اوسط پیداکړی

| نمری | 5 | 10 | 15 | 20 | 25 | 30 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دمحصلینوشمیر | 4 | 6 | 8 | 7 | 3 | 2 |

حل:

| | Xi | Fi | xi.Fi |
|---|---|---|---|
| | 5 | 4 | 20 |
| | 10 | 6 | 60 |
| | 15 | 8 | 120 |
| | 20 | 7 | 140 |
| | 25 | 3 | 75 |
| | 30 | 2 | 60 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | مجموعه | 30 | 475 |

6860=(68,6)100=د100محصلینونمری    475=دناکامانونمری

6385=6860-475=دبریالیو نمری

70=100-30=دبریالیوشمیر

$$\text{دبریالیو محصلینو د نمرو اوسط}\ \frac{6385}{70} = 91.2142$$

مثال۷: دلاندی جدول ڼخه ورک شوی دفعه پیداکړی که د نوموړو معلوماتو اوسط 15,38 وی

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| xi | 10 | 12 | 14 | 16 | 18 | 20 |
| Fi | 3 | 7 | F | 20 | 8 | 5 |

حل یی د لوستونکو دنده ده

مثال۸:په لاندی جدول کی د 65 تنو محصلینو نمری درکړل شویدی تاسی یی حسابی اوسط پیداکړی

| نمری | دزده کوونکودشمیرتراکمی دفعات cf |
|---|---|
| تر %70زیاتی | 7 |
| تر %60زیاتی | 18 |
| تر%50زیاتی | 40 |
| تر%40زیاتی | 40 |
| تر %30زیاتی | 63 |
| تر%20 زیاتی | 65 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل: جدول په لاندی ډول ترتیبوو

| $x_iF_i$ | دصنفونواوسط $\bar{x}_i$ | Fi | نمری |
|---|---|---|---|
| 50 | 25 | 2 | 20- 30 |
| 805 | 35 | 23 | 30 - 40 |
| 0 | 45 | 0 | 40 - 50 |
| 1210 | 55 | 22 | 50 - 60 |
| 715 | 65 | 11 | 60 – 70 |
| 525 | 75 | 7 | 70 - 80 |
| 3305 | | 65 | |

$$\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_i F_i}{\sum_{i=1}^{n} F_i} = \frac{3305}{65} = 50,8$$

**۲ – لنډه طریقه (فرضی اوسط)**

که چیری په یوه جدول کی دصنفونو شمیر زیات وی ، نو دهغه محاسبه کول طولانی وی دکار داسانتیا لپاره د فرضی اوسط څخه کار اخلو

۱ – دیوی طبقی وسطی نقطه مبدا فرضوو

۲- ددی په مقابل کی یعنی د انحراف په ستون کی صفر لیکو

۳- دصفر انحراف څخه پورته نقطه مثبت او کښته منفی لیکو

۴– په پنځم ستون کی دهغه عناصر دفریکونسی او دفرضی اوسط دانحراف دحاصل ضرب څخه لاسته راوړی یعنی $F_i d_i$

۵ – په اخر کی د $\bar{X} = A + \frac{\sum F_i d_i}{\sum Fi} c$ څخه اوسط لاسته راوړو چی A دفرضی اوسط څخه عبارت دی

د اوسط خواص:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوسط څخه د انحرافاتو مجموعه صفر ده. $\sum_{i=1}^{n}(x_i-\bar{x})=0$

که په هره مشاهده کې ثابت حقیقی عدد "a" اضافه شی نو نوی اوسط به $a\bar{X}$ + وي.

که د هری مشاهدی څخه ثابت حقیقی عدد "a" کم سی نو نوی اوسط به $\bar{X}-a$ وی

که په هره مشاهد کی ثات حقیقی عدد "a" ضرب سی نوی اوسط به $\bar{X}a$ وی

که هره مشاهده پر ثابت حقیقی عدد "a" و ویشل سی نوی اوسط به $\bar{x}/_{a}$ وی

**2.4 هندسي اوسط (Geometric Mean):-**

هندسي اوسط دحسابي اوسط په اندازه زيات دکارولوځايونه لري خوبياهم داديوه تحليل اودتحقيق

مقصداوهدف پوري اړه لري ،هندسي اوسط هم نظردمشاهدوډول ته فرق کوي ،يعني داچه اياهرقم

صنفبندي شوي که نه ؟ دلته بههريوبيل وګورو.

الف په غيرصنف بندي شووارقاموکبني هندسي اوسط :-

Geometric Mean from ungrouped data

که چيري په ......$x_1, x_2, x_3$ ډول ارقاموکي چه دشميرنويوه سلسله ده . که موږوغواړوهندسي

اوسط ومومو،نودلته ددغي سلسلي هندسي اوسط دهغوي دضرب دحاصل $n$ ام جذردي . دغه اوسط

پهGM سره ښيو او په لاندی ډول تعريف سوی دی.

$$G.M=\left(\prod_{i=1}^{n}x_i\right)^{\frac{1}{n}}=\sqrt[n]{x_1.x_2.x_3\ldots\ldots x_n}=[(x_1).(x_2).(x_3)\ldots\ldots(x_n)]^{\frac{1}{n}}.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکارداساني په خاطرکولاي شوچه په لاندي ډول يئ وليکو، يعني $G.M = \text{Anti}\log\frac{\sum logx}{n}$

ثبوت :-

$$G.M\ [(x_1).(x_2).(x_3)\ldots\ldots\ (x_n)]^{\frac{1}{n}}$$

$$\text{Log}\ G.M=\log\ [(x_1).(x_2).(x_3)\ldots\ldots\ldots(x_n)]^{\frac{1}{n}}$$

$$\log\ G.M=\frac{logX_1+logX_2+\cdots+logX_n}{n}$$

$$\text{Log}.G.M=\frac{\sum_{i=1}^{n} logx_i}{n} \qquad \Rightarrow G.M=\text{anti}\log\frac{\sum logx_i}{n}$$

| X | Log x |
|---|---|
| 50 | 1.6990 |
| 60 | 1.7782 |
| 70 | 1.8451 |
| 80 | 1.9031 |
| 85 | 1.9294 |
| 90 | 1.9542 |
| 95 | 1.9777 |
| | 13.0867 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال :- دلسم ټولګي دمضامينو نمريپه لاندي ډول راکړل شوي دي دهغوي هندسي اوسط په لاس راوړي.

70,80,85,90,95,60,50

G.M = $\sqrt[7]{\mathbf{70,80,85,90,95,60,50}} \Rightarrow \boldsymbol{G.M = 74}$

يا$G.M=\text{anti log}\ \frac{\sum logx}{n}$   $G.M = \text{anti log}\ \frac{\mathbf{13.0867}}{\mathbf{7}} = \text{anti log}\ 1.8695 = 74$

$\Rightarrow \mathbf{G.M = 74}$

ب : - په صنف بندي شويوارقاموکي هندسي اوسطGeometric Mean from grouped data

په صنف بندي شووارقاموکي دهندسي اوسط سنجش ډيرساده دي ،داسي چه ددفعاتو شمير هرځلدمربوطه

صنف دوسط په طاقت (توان)ليکل کيږي ،بيانوټول ضرب اودټولودفعاتو$(\boldsymbol{f_i})$ جذرئياستخراج کيږي،

فرمول يي دادي $G.M=\sqrt[\Sigma fi]{x_1^{fi}.x_2^{fi}\ \dots\dots\ x_n^{fn}}$. يا$G.M=\text{anti log}\ \frac{\sum f\ logx}{\sum f}$

ثبوت :- $G.M = [(x_1)^{f1}.(x_2)^{f2}\ \dots\dots\ (x_n)^{fn}]^{\frac{1}{\Sigma f_i}}$ $G.M= \sqrt[\Sigma fi]{x_1^{f1}.x_2^{f2}\ \dots\dots\ x_n^{fn}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\text{Log G .M} = \frac{\mathbf{1}}{\sum \boldsymbol{fi}} . \mathbf{log}\left[(\boldsymbol{x_1})^{\boldsymbol{f1}} . (\boldsymbol{x_2})^{\boldsymbol{f2}} \ldots \ldots (\boldsymbol{x_n})^{\boldsymbol{fn}}\right] = \frac{\boldsymbol{F_1 log x_1 + F_2 log x_2 + \ldots F_n log x_n}}{\sum \boldsymbol{f_i}}$$

$$\text{Log G.M} = \frac{\sum \boldsymbol{flogx}}{\sum \boldsymbol{f_i}} \Rightarrow \boldsymbol{G.M} = \boldsymbol{anti}\,\mathbf{log}\frac{\sum \boldsymbol{flogx}}{\sum \boldsymbol{f_i}}$$

مثال : ـ دلاندي معلوماتو هندسي اوسط پیداکړي

| Marks | Number of .student |
|---|---|
| 0-10 | 8 |
| 10-20 | 12 |
| 20-30 | 20 |
| 30-40 | 4 |
| | |

| Marks | No of student | X | Logx | Flogx |
|---|---|---|---|---|
| 0-10 | 8 | 5 | 0.699 | 5.5920 |
| 10-20 | 12 | 15 | 1.1761 | 14.1132 |
| 20-30 | 20 | 25 | 1.3979 | 27.9580 |
| 30-40 | 4 | 35 | 1.5441 | 6.1763 |
| | $\sum \boldsymbol{f_i}$=44 | | | 53.8395 |

استاد عبدالاحد ارین

(c) ketabton.com: The Digital Library



$\frac{\sum flogx}{\sum x}$=anti

| |
|---|
| 1 2.00 0.10 0.2 0.01 100 0.25 |

G.M=anti log

$\log\frac{53.8395}{44}$

= antilog 1.2236⇒G. M = 16.73

## 2.5 هارمونيکي اوسط (Harmonic mean) :-

دغه ډول اوسط ته ډيرکم ضرورت پيښيږي .استثناء هغوحالاتوکي چه زمان متحول فرض شي اوکيمت

ثابت فرض شي.الف :- (په غيرصنف بندي شووارقاموکي هارمونيکي اوسط )

که چيري د $x_2, x_1 \ldots x_n$ ,...... معلومات ولرونودهغوي هارمونيکي اوسط دلاندیفرمول په واسطه پيداکوو.

مثال :- دلاندي معلوماتو هارمونيکي اوسط پيداکړي . $H.M=\frac{n}{\frac{1}{x_1+x_2+\cdots+x_n}}=\frac{n}{\sum_{i=1}^{n}(\frac{1}{x_i})}$

1 0.5 10 45 175 0.01 4.0

حل:جدول ترتيبوو

| | | |
|---|---|---|
| x | 1 0.5 10 45 175 0.01 4.0 | |
| $\frac{1}{x}$ | 1 2.00 0.10 0.2 0.01 100 0.25 | 103.56 |

$$H.M=\frac{n}{\sum_{i=1}^{n}\frac{1}{x}}=\frac{7}{103.56}=\mathbf{0.07}\ \Rightarrow H.M= 0.07$$

**ب ( په صنف بندي شووارقاموکي هارمونيک اوسط ):-**

که چيري معلوما ت تصنيف شوي وي نودلاندي فرمول څخه استفاده کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$H.M = \frac{\sum_{i=1}^{n} f}{\sum_{i=1}^{n} (\frac{f}{x})}$$

مثال : ـ دلاندي معلوماتوڅخه هارمونيکي اوسط په لاس راوړي.

| X | F | $f/x$ | |
|---|---|---|---|
| 0.01 | 1 | 100 | |
| 0.5 | 6 | 12 | |
| 1 | 12 | 12 | |
| 4 | 16 | 4 | |
| 10 | 20 | 2 | |
| 45 | 9 | 0.2 | |
| 175 | 5 | 0.03 | |
| | 69 | 130.23 | |

حل :-

$$H.M = \frac{\sum_{i=1}^{n} f}{\sum_{i=1}^{n} (\frac{f}{x})} = \frac{69}{130.23} = 0.53 \Rightarrow \quad \boldsymbol{H.M = 0.53}$$

نوټ :- يوبل اوسط چه دمربعي اوسط په نامه سره ياديږي . داهم ډيرکم کارولکيږي. مربعي اوسط د ساده حسابي اوسط دمربع جذرڅخه عبارت دي . يعني

$$\bar{x}^2 = \frac{\sum x^2}{n}$$

**2.6**

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دحسابي ، هندسي ، اوهارمونيک اوسط ارتباط :-**

دنوموړواوسطونوترمينځ لاندي رابطي وجودلري .

$$H.M \leq \boldsymbol{G.M} \leq \boldsymbol{A.M}$$

$$(\boldsymbol{G.M})^2 = (\boldsymbol{A.M})(\boldsymbol{H.M})$$

(1) قضيه : که $a > \boldsymbol{0}$ ، $b > \boldsymbol{0}$ وي

الف : که $a = b$ وي پس لروچه $\frac{\boldsymbol{a+b}}{\boldsymbol{2}} = \sqrt{\boldsymbol{a.b}}$ دي.

ب : که $a \neq \boldsymbol{b}$ وي پس لرو چه $\sqrt{\boldsymbol{a.b}} < \frac{\boldsymbol{a+b}}{\boldsymbol{2}}$ دي .

$\frac{\boldsymbol{a+b}}{\boldsymbol{2}}$ ته حسابي اوسط (ياحسابي وسط ) او $\sqrt{\boldsymbol{a.b}}$ ته هندسي اوسط (ياهندسي وسط)وايي .

ثبوت : څرنګه چه$a > \boldsymbol{0}$ او $b > \boldsymbol{0}$ دي نو $\sqrt{\boldsymbol{a}} > \boldsymbol{0}$ او $\sqrt{\boldsymbol{b}} > \boldsymbol{0}$ هم صدق کوي .

اوس پورتني دوه غيرمساواتونه خواپه خوا تفريقووکوو يعني .

$$\sqrt{\boldsymbol{a}} - \sqrt{\boldsymbol{b}} > \boldsymbol{0}$$

څرنګه چه دپورتني غيرمساوات کينه خوايومثبت عدد دي نواطراف مربع کوو.اوديوسلسله لازموعمليا

توڅخه وروسته دقضيي (الف) او (ب) برخي حاصليږيعني .

$$(\sqrt{\boldsymbol{a}} - \sqrt{\boldsymbol{b}})^2 > \boldsymbol{0}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a-2\sqrt{a}.\sqrt{b}+b>0$$

$$a-2\sqrt{ab}+b>0 \quad = a+b>2\sqrt{ab}$$

اخرمساوات= $\frac{a+b}{2}>2\frac{\sqrt{ab}}{2}\Rightarrow\frac{a+b}{2}>\sqrt{ab}$

1 مثال :- د [2،50] ددووعدددونوترمينځ حسابي اوسط، هندسي اوسط محاسبه کړي اوبيايي سره پرتله

کړي وروسته د[2،50] ددووعددونواوهندسي اوسط له مخييوتناسب تشکيل کړي .

حل : $[2،50]$ حسابي اوسط د $= \frac{50+2}{2}=\frac{52}{2}=26$

$[2،50]$ هندسي اوسط د $= \sqrt{50.2}=\sqrt{100}=10$

ليدل کيږي چه $10<26$ دي بنا پردي ليکوچي: $\sqrt{50.2}<\frac{50+2}{2}$

اوس د 50، 2 ،او 10 ترمينځ لاندي تناسب تشکيلوو:

$10.10 = 2.50$ $100 = 100 \Rightarrow$ څکه چي $\frac{50}{10} = \frac{10}{2}$ يا $\frac{10}{50}=\frac{2}{10}$

2 مثال :- د [2،2] عددونوترمينځ حسابي اوسط ، هندسي اوسط محاسبه کړي اوبيا يي سره پرتله کړي .

اووروسته د 2 ، 2 اوهندسي له مخيي تناسب تشکيل کړي .

حل :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسابي اوسط= $\frac{2+2}{2} = \frac{4}{2}$=2

هندسی اوسط = $\sqrt{4} = 2 = \sqrt{2.2}$ =2

$$\Rightarrow \frac{2}{2} = \frac{2}{2} = 2.2 = 2.2 \Rightarrow 4 = 4$$

2) **قضيه** :- که [ $a_1$،$a_2$،$a_3$، ... ... ،$a_n$ ] مثبت عددونه او n طبعي عدد( $n \neq 1$ ) وي پس لرو چي .

$$\frac{a_1 + a_2 + a_3 + \cdots + a_n}{n} \geq \sqrt[n]{a_1, a_2, a_3, \dots \dots a_n}$$

ددي قضيي دثبوت څخه صرف نظركوواويوازي څوتوضيحي مثالونه حل كوو.

3) مثال :- د [ 4 ، 2 ، 1 ] دري عددونوترمينځ حسابي اوهندسي اوسطونه محاسبه کړي اووروسته د

[ 4 ، 2 ، 1 ] اوهندسي اوسط له مخييوتناسب هم تشكيل کړي .

حسابي اوسط د[ 4 ، 2 ، 1 ] = $\frac{1+2+4}{3} = \frac{7}{3} = 2,5$

هندسي اوسط د [ 4 ، 2 ، 1 ] = $\sqrt[3]{1.2.4} = \sqrt[3]{8} = 2 \quad \Rightarrow 2,5 > 2$ دلته وينوچه

$$\frac{1}{2} = \frac{2}{2} = \frac{2}{4}$$

( دوسطينوحاصل ضرب ) 1.2.4 = 2.2.2 ( دطرفينوحاصل ضرب )

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



8 = 8

4) مثال:- د[32 ، 4 ، 2 ، 1 ] ځلوروعددونوترمينځ حسا بي او هندسي اوسطونه محاسبه کړي اوبيا يي

سره پرتله کړي وروسته د [ 32 ، 4 ، 2 ، 1 ] عددونواوهندسي اوسط له مخييوتناسب تشکيل کړي .

$$\bar{x} = \frac{1+2+4+32}{4} = \frac{39}{4} = 9,75$$ (حسابي اوسط)

$$Gm = \sqrt[4]{1.2.4.32} = \sqrt[4]{256} = \sqrt[4]{(4)^4} = 4$$ (هندسي اوسط)

$$\frac{1}{4} = \frac{4}{2} = \frac{4}{4} = \frac{4}{32}$$

( دوسطينوحاصل ضرب ) 1.2.4.23 = 4.4.4.4 (دطرفينوحاصل ضرب)256 = 256

5) مثال :- د[ 1000، 10 ، 5 ، 2 ، 1 ] پنځه عددونوترمينځ حسابي اوسط اوهندسي اوسطونه محاسبه

کړي اوبيايي سره پرتله کړي.حل :-

مثال :- په لاندي معلوماتوکي $H.M < G.M < A.M$ رابطه ثبوت کړي .

حل:

| Marks | No student | X | Log x | F logx | $F/x$ | $F_x$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 0-10 | 8 | 5 | 0.699 | 0.5920 | 1.6 | 40 |
| 10-20 | 12 | 15 | 1.1761 | 14.1132 | 0.8 | 180 |
| 20-30 | 20 | 25 | 1.3979 | 27.958 | 0.8 | 500 |
| 30-40 | 4 | 35 | 1.5441 | 6.1763 | 0.11 | 140 |
| | 44 | | | 53.8395 | 3.13 | 860 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$A.M = \frac{\sum_{i=1}^{n} f_x}{\sum_{i=1}^{n} f} = \frac{860}{44} = 19.55$$

$$G.M = \text{anti}\log \frac{53.8395}{44} \Rightarrow G.M = anti \log 1.2236 = 16.73$$

G.M = 16.73

$$H.M = \frac{\sum_{i=1}^{n} f}{\sum_{i=1}^{n}(\frac{1}{x})} = \frac{44}{3.31} = 13.3 \Rightarrow A.M = 19.55 > G.M = 16.73 > H.M = 13.3$$

مثال:- ددوه مشاهدوحسابي اوسط 127.5 اوهندسي اوسط يې 60 دي پس هارمونيک اوسط يې پيداکړي.

حل :- $G^2 = AxH = (60)^2$ H.M = H $= (127.5)$ X (H)$\frac{G^2}{A} = \frac{3600}{127.5} = 28.24$

$$\Rightarrow H.M = 28.24$$

**2.6 (average of position)دموقعیت له پلوه اوسط**

رياضيکي اوسط په تولوموارد وکښي داستفادي وړنه دي خصوصآ په هغه حالت کيچه يوعددمنفي،

صفر،اويوعددبي درکه (miss) شوي وي .مثلآکه دشاګردانود7 کسيزه ګروپ څخه دسوي امتحان

واخلواولاندي نمري واخلي.,3 ,1,0- =X 204 ,7 ,6,

نوپدي صورت کښيA.M=6,5 دي اود(1-)او(0) له وجه څخه هندسي اوسط (G.M) اوهارمونيک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسط (H.M) نشومحاسبه کولاي .پس دلتهيوبل اوسط چه عبارت دي له مياني، موږ اوداسي نوروڅخه ځخه

مطالعه کوو.

**2.8 ميانه( Median)**

داهم دفريکوينسي په ويش کي دارقامو دمرکزيت دپيداکولو يوه بله طريقه ده ميانه دحسابي اوسط په شان کوم الجبري تعريف نلري او ديولړ ارقامويا عددونو دمنځني حدپيداکول دي يعني ميانه هغه رقم يا نقطه ده چي نيم ارقام يې پورته خواته او نيم ارقام يې ښکته خواته قرارلري

د دې لپاره چې د n ډېټا ارزښتونو سيټ مينځنی (ميانه))وموموء، موږ بايد لومړی راکول سوی معلومات په ترتيب سره تنظيم کړو.چی دلته ميانه د n په تاق او جفت پوری اړه لری او په لاندی فورمول سره اندازه کيږی.

$$\text{median} = \begin{cases} X_{(0.5(n+1))} & \text{if } n \text{ is odd} \\ \frac{1}{2}\left(X_{(0.5n)} + X_{(0.5n+1)}\right) & \text{if } n \text{ is even.} \end{cases}$$

مثال:لاندې ارزښتونه په روغتون کې د بستر شوي ناروغانو د ويني فشار دي:

117.5 123.8122.4 122.3 115.8 159.6 110.9 108.2 109.5 115.9 138.6 112.1

د وينی د فشار داوسط ارمقدار موندلو لپاره، موږ بايد لومړی دوی په صعودی ډول ترتيب کړو

108.2 109.5 110.9 112.1 115.8 115.9 117.5 122.3 122.4 123.8 138.6 159.6.

دلته مشاهدات جفت جفت دی يعنی د n شمير فت دی نو.

$$\text{Me}=\frac{1}{2}\left(X_{(6)}+X_{(7)}\right)=\frac{1}{2}(115.9+117.5)=116.7.$$

د پورته ملوماتو اوسط په لاندی ډول دی.

$$\bar{x}=\frac{1}{12}(108.2+109.5=110.9+\ldots+159.6)=\frac{1456.6}{12}=121.38$$

پورته اوسط چی د ميانی څخه لوی دی . د 159.6 ارزښت تر اغيزی لاندی راغلی دی . منځنی (ميانه)د اوسط په پرتله خورا پياوړی ده او دلوړ ارزښت لرونکی ډاټا تر اغيزی لاندی نه راځی .

استاد عبدالاحد ارين

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال :د فوټبال یوې لوبډلې په تېرو ۴۴ لوبو کې لاندې شمېر ګولونه کړي دي

| Number of goals | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 |
|---|---|---|---|---|---|
| Frequency | 9 | 8 | 15 | 9 | 3 |

لکه څنګه چې n = 44، میانه به د 22 او 23 مشاهدو تر منځ نیمه لاره کی پروت وي. څکه چې دواړه $x_{(22)}$ او $x_{(23)}$ 2 دي، منځنی ارزښت 2 دی.

